شبکهٔ زنان افغان
ارسالی سمیرا حمیدی

کابل، حوت ۱۳۸۸ برابر با مارچ ۲۰۱۰

بسم الله الرحمن الرحیم

# اعلامیهٔ مشترک شبکهٔ زنان افغان و شبکهٔ جامعهٔ مدنی
## و حقوق بشر افغانستان به مناسبت هشتم مارچ، روز همبستگی جهانی زنان

نهادهای جامعهٔ مدنی افغانستان، در هشتم مارچ، روز جهانی همبستگی زنان، از دولت افغانستان و جامعهٔ بین المللی میطلبند تا به تأمین صلح و امنیت توجهٔ جدی نموده و راههای برون رفت از منازعات جاری را شناسایی نمایند.

هشتم مارچ، روز همبستگی زنان جهان، روز ارزشمندی برای تمام زنان جهان شمرده میشود. بزرگداشت از این روز، نشانگر توجه دولتها و نهادهای جهانی به نقش زنان در جامعه و همسانی مشارکتی آنها در حیات اجتماعی، سیاسی، اقتصادی و فرهنگی تلقی میگردد.

زنان افغانستان، به مثابهٔ جزئی از جامعهٔ افغانی و جهانی، از این روز با اهمیت تجلیل به عمل آورده و به مناسبت همین روز، دیدگاههای خویش را از طریق نهادهای جامعهٔ مدنی و رسانه ها، به گوش دولت و جامعهٔ جهانی میرسانند.

سال جاری، سال دشواری برای زنان افغانستان بوده است. درین سال، زنان کشور، از کمبود امنیتهای اجتماعی، اقتصادی، فرهنگی و سیاسی رنج فراوانی برده اند. تحقیر، اهانت به کرامت انسانی زنان، تجاوزهای جنسی به زنان افغان، کم بهادادن به نقش با اهمیت سیاسی زنان، نبود توازن جنسیتی در زمینه های فرهنگی ـ اقتصادی و سوء تعبیر از ارزشهای مقدس، در پیوند به نقش زنان، از جملهٔ دشواریهای مهم اجتماعی زنان کشور به حساب می آید.

درین اواخر، برنامه های مهم نظامی در افغانستان، از سوی نیروهای ملی و بین المللی آغاز گردیده، که باعث تلفات شهروندان غیرنظامی شده است. طالبان و سایر گروههای دهشت افگن نیز، از یکسو از شهروندان بیگناه افغان و محلات رهایشی، به مثابهٔ سپر دفاعی در برابر نیروهای ملی و بین المللی استفاده مینمایند، که در نتیجه افراد بیگناه، که اکثریت آنان را زنان و کودکان تشکیل میدهند، به خاک و خون کشانیده میشوند و از سوی دیگر، برای انتقامجویی، دست به عملیاتهای خطرناک کشنده، در داخل شهرهای بزرگ افغانستان زده و محلات مزدحم را نشانه میگیرند. این تشنجات باعث تشویش فراوان مردم کشور گردیده و سبب خلق روحیهٔ بدبینانه نسبت به آینده گردیده است.

شبکهٔ زنان افغان و شبکهٔ جامعهٔ مدنی و حقوق بشر افغانستان ، که نهادهای چتر و هماهنگ کنندهٔ نهاد های جامعهٔ مدنی در کشور هستند، انزجار عمیق شان را نسبت به گسترگی تشنجات در کشور ابراز داشته و به مناسبت روز جهانی زن، نکات زیر را طی این اعلامیه، مطرح مینمایند:

- ما، استفاده از شهروندان غیر نظامی و بیگناه را به عنوان سپر دفاعی، خلاف تمام موازین حقوق بشر و حقوق بشرخواهانهٔ بین المللی دانسته و تمامی برخوردهای تشنج آمیز در برابر شهروندان به ویژه زنان، کودکان و موسفیدان را شدیداً تقبیح میکنیم و از دولت جمهوری اسلامی افغانستان جداً میطلبیم، تا برنامه های مفیدی را برای تخلیهٔ محلات جنگی از افراد بیگناه، فراهم آورد.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

➢ از نیروهای جامعهٔ جهانی در افغانستان جدا میطلبیم، تا در جریان عملیاتهای نظامی خویش، از تکرار اشتباهات تخنیکی و اجرایی خود بیاموزند و نگذارند که این اشتباهات مکرر، به گناه نابخشودنی مبدل گردد. دیگر مردم افغانستان، از شنیدن اعلامیه های عذرخواهانهٔ نیروهای بین المللی، خسته شده اند؛

➢ ما از پولیس و نهادهای تطبیق کنندهٔ قانون مصرانه میطلبیم، تا امنیت فزیکی و اجتماعی زنان کشور را به مهمترین اولویتهای برنامه های خویش مبدل ساخته و متخلفین و جنایتکارانی را که به کودکان و زنان کشور تجاوز مینمایند، به پنجهٔ قانون بسپارد و از کرامت و عزت زنان و کودکان کشور، صیانت و پاسداری نمایند؛

➢ ما از توشیح قانون منع خشونت علیهٔ زن، استقبال نموده، از تمامی نهادهای زیربط در کشور، میطلبیم تا در تطبیق این قانون ارزشمند، تلاشهای مصرانه را به خرج دهند.

➢ ما از شورای ملی کشور تقاضا مینماییم، تا به تصویب قوانین ارزشمندی که همسانی جنسیتی در کشور را تقویت بخشد، تلاشهای همه جانبه نمایند و هم چنان در تصویب قانون منع خشونت تلاش جدي نمایند.

➢ ما از رییس دولت افغانستان، مانند همیشه تقاضا مینماییم، تا از نقش با اهمیت زنان در سیاستگزاریهای ملی و بین المللی استفاده نموده و در سیاست کادری و کابینهٔ خویش، از زنان برجسته و متخصص افغان، استفادهٔ شایانی به عمل آورد؛

➢ ما از اعلامیهٔ خانم ناوی پیلی، کمیشنر عالی سازمان ملل متحد در امور حقوق بشر، که به مناسبت روز جهانی همبستگی زنان، در پیوند به توجه بیشتر دولتهای جهان به امور زنان، پخش گردیده، استقبال مینماییم و از دولت افغانستان میطلبیم، تا به تعهدات جهانی خویش، از جمله به معیارهای مطرح در کنوانسیون جهانی رفع هر نوع تبعیض علیهٔ زنان، عمل نموده و قوانین ملی کشور را با معیارهای مذکور منطبق سازد؛

➢ ما از دولت جمهوری اسلامی افغانستان مصرانه می طلبیم تا فیصله های قطعنامهٔ شماره ۱۳۲۵ شورای امنیت سازمان ملل متحد را که شامل حقوق بین المللی میباشد، جداً مورد استفاده قرار داده و مفاد آن را جز برنامه های ملی، به ویژه در تقویت نقش زنان در پروسهٔ صلح و امنیت، مورد استفاده قرار دهد.

➢ ما از رسانه های ملی و بین المللی میطلبیم، تا در حمایت از زنان کشور، جهت روشن سازی ذهنیتهای اجتماعی و بین المللی، برنامه های تأثیرگذاری را در پیوند به نقش زنان افغان، راه اندازی نمایند؛

➢ ما از جامعهٔ جهانی و حامیان افغانستان میطلبیم، تا در تقویت برنامه ها و نهادهای حقوق زن در کشور، توجه بیشتر نموده و در ظرفیت پروری این نهادها، نقش با اهمیت شان را ادا نمایند.

شبکهٔ زنان افغان و شبکهٔ جامعهٔ مدنی و حقوق بشر افغانستان، روز جهانی زنان را برای تمام زنان و فعالان حقوق بشر در سراسر جهان و به ویژه برای زنان میهن به بلا کشیدهٔ خویش تهنیت و مبارک باد گفته، آرزومندند تا امنیت و صلح در کشور بر قرار گردد و زمینه های فعال سازی بیشتر زنان در کشور، که یکی از مهمترین عناصر پیشرفت اجتماعی را تشکیل میدهد، فراهم گردد.

شبکهٔ جامعهٔ مدنی و حقوق بشر افغانستان

**********

د افغان ښځو شبکه — کابل، ۱۳۸۸کال، کب- د ۲۰۱۰ کال، مارچ

بسم الله الرحمن الرحیم

# دمارچ اتمې د ښځو د يوالي نړيوالي ورځې په مناسب دافغان ښځو
## شبکې او دافغانستان د مدني ټولني او بشري حقونو شبکې ګډه اعلاميه

دافغانستان دمدني ټولني د مارچ په اتمه چې د ښځو د يوالي نړيواله ورځ ده، دافغانستان له دولت او نړيوالي ټولني ځخه غواړي تر څو د سولې راتګ او امنيت ټينګولو ته دې جدي پاملرنه وکړي او له اوسنيو منازعاتو ځخه دې د وتو لاره پيدا کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

د مارچ اتمه چې د نړۍ د ښځو د يوالي نړيواله ورځ ده، په نړۍ کې ټولو ښځو لپاره ترټولو با ارزښته ورځ ده. دغه ورځ په ټولنه کې د هغوۍ ونډې او په ټولنيز، سياسي،اقتصادي او فرهنګي ژوند کې دهغوۍ مشارکتي يوالي ښکارندوي بلل کيږي.

د افغانستان ميرمنې د افغاني او نړيوالې ټولنې د يوې برخې په توګه دغه با ارزښته ورځ لمانځي او ددغې ورځې په مناسبت خپل ليدلورى د مدني ټولنو او رسنيو له لارې دولت او نړيوالې ټولنې ته رسولی.
روان کال د افغانستان ښځو لپاره ستونزمن کال وو. په دغه کال کې د هيواد ښځې د ټولنيز، اقتصادي،فرهنګي او سياسي امنيت څخه ډيرې زوريدلي. دښځو انساني کرامت ته اهانت،تحقير، پر افغان ښځو جنسي تيری، د ښځو سياسي ونډې ته کم ارزښت ورکول، په فرهنګي- اقتصادي برخو کې د جنسيتي انډول نشتوالی او له مقدسو ارزښتونو څخه د ښځو په اړه ناوړه تعبير، په هيواد کې د ښځو له مهمو ټولنيزو ستونزو څخه شميرل کيږي.

په دې وروستيو کې د ملي او نړيوالو ځواکونو له خوا مهم پوځي پروګرامونه پيل شوي چې دغه پوځي فعاليتونه د افغان بيګنا وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوي. طالبانو او نورو طرهګرو ډلو هم له بيګناه افغان وګړو او د هغوې د اوسيدو له ځايونو څخه دملی او نړيوالو ځواکونو په وړاندې د سپر په توګه کار اخيستی چې په پايله کې بيګناه وګړي چې ډيرى يې ښځې او ماشومان دي، مړه يا ژوبل شوي. طرهګرو ډلو هم دغچ اخيستنو په پايله کې دافغانستان په سترو ښارونوکې په خطرناکو او وژونکو عملياتو لاس پورې کړ او د ګڼې ګوڼې ډک ځايونه يې په نښه کړل. دغه تاوتريخوالي د هيواد د وګړواندېښنه راپاره ولې او د راتلونکې په اړه د بدبينانه روحي لامل شوی.

دافغانستان د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه او د افغان ښځو شبکه چې په هيواد کې د مدني ټولنو سترې همغږې کونکې ټولنې دي، په هيواد کې د وروستيو تاوتريخوالو په اړه خپله ژوره خواشينۍ څرګندوي او د ښځو نړيوالې ورځې په مناسبت لاندې ټکې په دغې اعلاميه کې، مطرح کوي:

- موږ سولې او امنيت ته د لاس رسۍ په خاطر د ټولو ښکيلو ډلو څخه غواړي ترڅو له ملکي او بيګناه وګړو څخه د سپر په توګه کار وانخلي او دهغوۍ په وړاندې هرډول تاوتريخجن چلند په کلکه غندو او د افغانستان له اسلامي جمهوريت څخه په عليحده توګه غواړو ترڅو له جګړه ځپلو سيمو څخه د بيګناه وګړو په ځانګړې توګه د ښځو،ماشومانو او سپينږيرو ته له هغو سيمو څخه د وتو ګټور پروګرامونه رامنځته کړي.

- په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له ځواکونو څخه په بيله توګه غواړو ترڅو د خپلو پوځې عملياتو په لړکې د خپلو تيرو تخنيکي تيروتنو له تکرار څخه تجربه ترلاسه کړي، او پرې نږدي چې دغه د ښنې نه وړ تيروتنې په سترې ګناه بدلې شي. دافغانستان خلک د بيګناه وګړو له بمباردمان وروسته د غذر غوښتونکو اعلاميو له اورديو څخه سترې شوي.

- موږ له پوليسو او د قانون ساتونکو ټولنو څخه په ډيرې خوښۍ سره غواړو ترڅو د هيواد دښځوو فزيکي او ټولنيز امنيت ساتلو ته د خپلو پروګرامونو په لومړي توبونو کې ځاي ورکړي او هغه سرغړونکي او جنايتکاران چې په ماشومانو او ښځو تيرى کوي د قانون پنجې ته وسپاري او د ښځو عزت او کرامت څخه ساتنه وکړي.

- موږ د ښځو په وړاندې د تاورتيخوالي په اړه د قانون له توشيح څخه ستاينه کوو او په هيواد کې له ټولو اړوندو ټولنو څخه غواړو،ترڅو ددغه ارزښتمن قانون په پلي کولو کې زياته هڅه وکړي. موږ دهيواد له پارلمان څخه غواړو ترڅو د داشان ارزښتمنو قوانينو په تصويب کې چې په هيواد کې جنسيتي انډول پياوړى کوي په اړه يې زياته هڅه وکړي.

- موږ د افغانستان له ولسمشر څخه د تل په څير په کراتو غوښتنه کوو ترڅو په ملي سياستونو کې د ښځو له با ارزښته ونډې څخه ګټه واخلي او د خپلو کادري او د کابينې په سياستونو کې له متخصصو او پياړو ښځو څخه ګټور کار واخلي.

- موږ د ښځود يو ووالي نړيوالې ورځې په اړه د بشري حقونو په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان کمشنيرې ميرمن ناوې پيلي له اعلاميې څخه چې په کې د نړۍ زياتو هيوادونو دښځو چارو ته ډيره پاملرنه شوې ستاينه کوو د افغانستان له دولته غواړو ترڅو په نړويوالو تړونو له هغې ډلې څخه د ښځو په وړاندې د هر ډول تاوتريخوالي له منځه وړلو کنوانسيون عمل وکړي او خپل ملي اصول او قوانين له دې سره سم جوړ کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

- موږ د افغانستان له اسلامي جمهوري دولت څخه په درناوي هیله کوي ترڅو د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا ۱۳۲۵ پریکړه لیک چې د نړیوالو حقونو لرونکي ده، د ترجدي کاروني لاندې ونیول شي او د هغې ګټې د ملي پروګرامونوږ یوه برخه په ځانګړې توګه د ښځو د ونډې په پیاوړتیا او د سولې او امنیت په لړۍ کې وکاروي.

- موږ له ملي او نړیوالو رسنیو څخه غواړو ترڅو په ټولنه کې د ښځو د اغیزمنې ونډې او په ملي او نړیوالو ذهنیتونو کې دښځو د اغیزمنې ونډې د روښانه کولو په برخه کې ګټور پروګرامونه جوړ کړي.

- موږ له نړیوالې ټولنې او دافغانستان له حامیانو څخه غواړو ترڅو په هیواد کې د ښځو د ټولنود پیاوړي کولو په برخه کې زیاته پاملرنه وکړي او دهغوئ په ظرفیت روزنه کې د اهمیت وړ ونډه واخلي.

دافغان ښځو شبکه او د افغانستان دمدني ټولنې اوبشري حقونو شبکه دښځو نړیواله ورځ د نړۍ ټولو ښځو ته په ځانګړې توګه دهیواد رنځیدلو ښځو ته د زړه له کومې مبارکي وایو او هیله لرو ترڅو په هیواد کې سوله او امنیت ټینګ شي او د ښځو لازیات فعالیدلولپاره چې د ټولنیز پرمختګ یو مهم عنصر جوړوي زمینه برابره شي.

دافغانستان دمدني ټولنې اوبشري حقونو شبکه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ